مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمیع الدین افغاني ۲۰۱۹/۱۲/۰۹

# د خلاصون لار

وايي: کوږ بـــار تر منزل نه رسيږي
په ظلم، زور دا حالت نـــه جوړيږي

څو چي زورواک او ستمګر حاکم وي
دا د ظلمت تياري هيڅ نـــه ختميږي

چيرته چي جهل، ظلم ، زور چليږي
د جنګ لمبې هلته کـــې نه سړيږي

چي په فريب ، دوکه ژوندون تيروي
د هغه ملک حالت نور نه بدليږي

تر څو دا چور وي دا تالان دلته کي
دا بد حالات وطن کـــې نه سميږي

څو چي زورواک او بل واکي وي دلته
قـهـر او غصه د خلکو نـــه کميږي

ورورې يواځې د خلاصون لاره ده
په تربګنی کې ژوندون بنه نه تيريږي

که افغاني وطن کـــې سوله راغله
د جنګ لمن بـــه خاماخا تـــوليږي
-----------------------------
شاعر: سميع الدين افغاني
۹ ــ ۱۲ ــ ۲۰۱۹
م۰کال



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ